د پوهنې وزارت

پښتو

دويم ټولګی



پښتو - دويم ټولګی

ا	آ	ب	پ	ت
ټ	ث	ج	چ	ځ
څ	ح	خ	د	ډ
ذ	ر	ړ	ز	ژ
ږ	س	ش	ښ	ص
ض	ط	ظ	ع	غ
ف	ق	ک	ګ	ل
م	ن	ڼ	و	هـ-ه
ی	ي	ې	ۍ	ئ

کال: ۱۳۹۸ هـ. ش

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هېواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

پښتو

دويم ټولگی

کال: ۱۳۹۸ هـ . ش

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې د درسي کتابونو مؤلفین

ایډیټ کوونکي: د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایډیټ څانګې غړي

ټولګی: دویم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

بریښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د چاپ او خپرونې حق له پوهنې وزارت سره خوندي دی.

دا کتاب د "افغان ماشومان یې لولي" پروژې په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی.

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو چې موږ ته یې ژوند رابښلی او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نه شو. پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

لړلیک

اونۍ	مخ
لومړۍ اونۍ	۱ - ٦
دویمه اونۍ	۷ - ۱۲
دریمه اونۍ	۱۳ - ۱۸
څلورمه اونۍ	۱۹ - ۲٤
پنځمه اونۍ	۲٥ - ۳۰
شپږمه اونۍ	۳۱ - ۳٦
اوومه اونۍ	۳۷ - ٤۲
اتمه اونۍ	٤۳ - ٤۸
نهمه اونۍ	٤۹ - ٥٤
لسمه اونۍ	٥٥ - ٦۰
یوولسمه اونۍ	٦۱ - ٦٦
دولسمه اونۍ	٦۷ - ۷۲
دیارلسمه اونۍ	۷۳ - ۷۸
څوارلسمه اونۍ	۷۹ - ۸٤
پنځلسمه اونۍ	۸٥ - ۹۰
شپاړسمه اونۍ	۹۱ - ۹٦
اووه لسمه اونۍ	۹۷ - ۱۰۲
اتلسمه اونۍ	۱۰۳ - ۱۰۸
نولسمه اونۍ	۱۰۹ - ۱۱٤
شلمه اونۍ	۱۱٥ - ۱۲۰
یو ویشتمه اونۍ	۱۲۱ - ۱۲٦
دوه ویشتمه اونۍ	۱۲۷ - ۱۳۲
درویشتمه اونۍ	۱۳۳ - ۱۳۸
څلور ویشتمه اونۍ	۱۳۹ - ۱٤٤
پنځه ویشتمه اونۍ	۱٤٥ - ۱٥۰
شپږ ویشتمه اونۍ	۱٥۱ - ۱٥٦
اووه ویشتمه اونۍ	۱٥۷ - ۱٦۲
اته ویشتمه اونۍ	۱٦۳ - ۱٦۸

ا

اِ نـ ســان	اِنسان
اَ خـ تـر	اَختر
اِ مام	اِمام
پيـ ـدا	پيدا

الله جَلّ جَلالهُ

الله جَلّ جَلالـهُ يـو دى. قُـرآن كريـم د الله جَلّ جَلالـهُ كِتـاب دى. مـوږ ټـول الله جَلّ جَلالـهُ پيـدا كـړي يـو.



مـوږ د الله جَلّ جَلالـهُ بَنـده ګان يـو.

الله جَلّ جَلالـهُ ډېر مِهرَبانه دى. مـوږ مؤمنان يـو. مـوږ د الله جَلّ جَلالـهُ عِبـادَت كـوو.

	ا
	ـا
	ـا

اَمسا	اَمـ ـسا
اسلام	اسـ ـلام
عِبادت	عِـ ـبا دت
پیدا	پيـ ـدا

الله (جَلّ جَلالُهُ)

ټپي پیشو

لیکل

ل

کـ ـمال	کمال
جَـ ـلال	جَلال
جَـ ـمال	جَمال
دېـ وال	دېوال

لَیلا او لېمه

لَیلا او لېمې په نانځکو لوبې کولې. لَیلا د نانځکې پر تَندي لاس کېښود. ویې ویل: وی! سَخته تَبه یې ده. لېمې وویل: کلینیک ته به یې یوسو. د لَیلا ورور پوښتنه وکړه: کلینیک څه ته وایي؟ لېمې وویل: په کلینیک کې د ناروغانو عِلاج کېږي.

	لـ
	ـلـ
	ـل

لَیلا	لَیـ ـلا
لیمه	لیـ ـمه
میلمنه	میلـ ـمـ ـنه
دَرمَل	دَر مَل

لَیلا او لیمه

تپي پیشو

لیکل

ا

ل

ـا

 ـلـ

ـا

 ـل

۱-الله ﷻ ډېر ______ دی.

۲-موږ د الله ﷻ ______ کوو.

۳-لَیلا او لیمې ______ کولې.

۴-په کلینیک کې د ناروغانو عِلاج ______.

(مهربانه، لري)

(کور، عِبادَت)

(لوبې، کلینیک)

(نانځکه، کیږي)

الله (جَلّ جَلالُه)

ا

ل

ـا

ـلـ

ـا

ـل

هجا

پیدا	پیـ دا	کالي	کا لي
زما	ز ما	جومات	جو مات
دُعا	دُ عا	خوشـحال	خوشـ ـحال

لَیلا او لیمه

اِملا

ل
لا لب لج لد لر
لا
لب
لج
لد
لر



ب

کِ ـتاب	کِتاب
حِ ـساب	حِساب
تَ ـواب	تَواب
کَ ـباب	کَباب

د حِساب کِتاب

ببرک او بَریالی سره ټولګیوال وو. ببرک په حساب کې تَکړه و. د بریالي حساب ښه نه و زده. له ببرک څخه یې پوښتنه وکړه: ته حِساب څنګه زده کوې؟

ببرک وویل: زه یې له ورور څخه زده کوم. بریالي هم له خور سره حِساب پَیل کړ. ورو ورو یې حِساب زده شو. اوس په حِساب ښه پوهېږي.



بـ

ـبـ

ـب

بَریالی	بَر یا لی
تبر	تـ ـبر
عِبادت	عِـ ـبا دت
مَکتَب	مَک ـتَب

د حِساب کِتاب

د مور او پلار حَقونه

لیکل

م

ماشوم	ما شوم
بادام	با دام
سَلام	سَ لام
اسلام	اس لام

حَضرَتِ مُحَمَّد (صَلَی اللهُ عَلَیهِ وسَلَّم)

زمونږ پیغمبر حَضرَتِ مُحَمَّد (صَلَی اللهُ عَلَیهِ وسَلَّم) نومیږي.

هغه ډېر مِهربانه و. له ماشومانو

سره یې ډېره مینه کوله.

د ماشومانو لوبې یې خوښېدې.

حَضرَتِ مُحَمَّد (صَلَی اللهُ عَلَیهِ وسَلَّم)

به ویل: د لورا و زوی فرق مه کوئ.

له دواړو سره مینه وکړئ.

په دواړو تعلیم وکړئ.

	مـ
	ـمـ
	ـم

مِهربان	مِهـ ـر بان
لیمو	لیـ ـمو
قلم	قـ ـلم
مُعلم	مُـ ـعـ ـلم

حَضرَتِ مُحَمَّد ﷺ

د مور او پلار حَقونه

لیکل

	بـ		ـبـ		ـب
	مـ		ـمـ		ـم

۱-ببرک په ـــــــــ کې تکړه و. (څوکی، حِساب)

۲-ورو ورو یې حِساب ـــــــــ. (زده شو، مني)

۳-زموږ پَیغَمبَر حضرتِ محمد ﷺ ـــــ. (نومبړي، گُلان)

۴- هغه د پر ـــــــــــــ و. (مِهربانه، دُرود)

د حِساب کِتاب

	ا		ـا		ـا
	لـ		ـلـ		ـل

هجا

دُعا	دُ عا	بادام	با دام
جومات	جو مات	پَیغَمبَر	پَیـ غَمـ بَر
ملالۍ	مـ لا لۍ	قلم	قـ لم

حضرتِ مُحَمَّد ﷺ

اِملا

م
ما مب ج مد مر
ما
مب
ج
مد
مر

و

واو ره	واوره
ورا ره	وراره
وړانـ دې	وړاندې
وروسـ ته	وروسته

لاس مینځل

لـه ډوډۍ وروسـتـه — لـه ډوډۍ وړانـدې
لاسـونـه مـيـنـځـئ — پـه صـابـون بـانـدې
چـې لـه تـشـنـابـه — څوک شـي راسـتـون
لاسـونـه مـيـنـځـي — پـاک پـه صـابـون
لـه مَـرَضـونـو — بـه پـه اَمـان وي
واورئ، خبـر دي — ټـول ماشـومـان وي

	و
	ـو
	ـو

ورونه	ورو نه
صابون	صا بون
تولگی	تولـ گی
اوتو	او تو

لاس مینځل

بې پروايي

ليکل



د

دَر مَل ـتون	دَرمَلتون
دا رو	دارو
دَر مَل	دَرمَل
دا وود	داوود

پاک خواړه

فَریدې مېوه مینځلو ته وړله. داوود ورته وویل: ما ته لږ انګور راکړه. فَریدې وویل: صبر وکړه چې ویې مینځم. مور یې وویل: فَریده ښه وايي. وَحیدې ناپاکه مېوه خوړلې وه. بیا یې نس خوږېده. ناپاکه مېوه او سابه به هېڅکله نه خورئ.

د

ـد



ـد

دویم	دو یم
فَریده	فَـ ـریـ ـده
داوود	دا وود
وَحیـده	وَ حیـ ـده

پاک خواږه

بې پروايي

لیکل

و

د

ـو

ـد

ـو



ـد

١- له ـــــــ به په امان وي. (مرضونو، دوا)

٢- چې له ـــــــ څوک شي راستون. (تشنابه، صابون)

٣- فَرِیدې ـــــــ مینځلو ته وړله. (مېوه، کتابچه)

۴- بیا یې ـــــــ خوړېده. (څوکۍ، نس)

لاس مینځل

	ا		ـا		ـا
	ل		ـلـ		ـل
	بـ		ـبـ		ـب
	مـ		ـمـ		ـم

هجا

اسلام	اسـ لام	ماشوم	ما شوم
جومات	جو مات	دَرمَلتون	دَر مَلـ تون
پَيغَمبَر	پَيـ غَمـ بَر	لَيلا	لَيـ لا

پاک خواږه

اِملا

د

بد جد سد صد طد

بد

جد

سد

صد

طد

آ

آ ذان	آذان
آ فَـ ـرين	آفَرين
آ رام	آرام
آ سو نه	آسونه

آس

آصِف گُلانو ته اوبه وړې. آس وشنېده. په اوبو پسې يې زور وکړ. آصِف وويل: اوهو! آس تږی دی.

اوبه يې ورته کېښودې. آس اوبه وڅښلې او آرام شو. آصِف پلار ته کيسه وکړه. د هغه پلار آدم خان وويل: آفَرين زويه! هېر مې و چې آس ته اوبه کېښودم.

آ

ـا

حُسنا

ـا

آفَرین	آ فَـ ـرین
آصِف	آ صِف
آسمان	آسـ ـمان
خُرما	خُر ما

آس

د مور خِدمَت

ليکل

س

او دَس	اودَس
اَلـ ـماس	اَلماس
گیـ ـلاس	گیلاس
بُرس	بُرس

د غاښونو مینځل

نَسیمه سَهار، غَرمه او ماښام غاښونه مینځي.



د هغې غاښونه سپین او صفا دي. که غاښونه ونه مینځل شي، خرابېږي.
ناپاک غاښونه روغتیا ته زیان رَسوي. هر څوک باید خپل بُرس یا مِسواک ولري. پاک او صفا غاښونه ډېر عمر کوي.

	سـ
	ـسـ
	ـس

سَهار	سَـ ـهار
نَسیمه	نَـ ـسیـ ـمه
مِسواک	مِسـ ـواک
بَکس	بَکس

د غاښونو مینځل

د مور خِدمَت



لیکل

آ

ا

ا

سـ

ـسـ

ـس

۱-آس ________. (وششنبده، لرگی)

۲-آدم خان وَويل: آفَرين______! (زويه، كِتاب)

۳- د هغې غاښونه پاک او _____ دي. (مِسواک، صفا)

۴- پاک او صفا غاښونه______ عُمر كوي. (ډېر، تور)

آس

	بـ
	مـ
	و
	د

	ـبـ
	ـمـ
	ـو
	ـد

	ـب
	م
	ـو
	ـد

هجا

بَريالى	بَر يا لى	حامِد	حا مِد
کِتاب	کِ تاب	دَرمَلتون	دَر مَلـ ـتون
ماشوم	ما شوم	گُلدانۍ	گُلـ دا نۍ

د غاښونو مینځل

اِملا

س

بس جس سا سن سو

بس

جس

سا

سن

سو

ا

ر

ـا


ـلـ

ـا


ـل

را وړل	راوړل	لَیـ ـلا	لَیلا
ا نار	انار	لیـ ـمه	لیمه

فیل او موږک

فیل او موږک ملګري وو. فیل غټ و. خوراک یې هم ډېر و.



یوه ورځ موږک ډېر خواږه وخوړل.
ناروغه شو. فیل بیزو ته ورووست.
بیزو درمل ورکړل. په خندا یې ورته
وویل: خوراک په اندازه کوه. د فیل
خوراک د فیل کولمې غواړي.

	بـ		ـبـ		ـب
	مـ		ـمـ		ـم

بَريالى	بَر يا لى	موبايل	مو با يل
عِبادت	عِـ بـا دت	ليمو	ليـ ـمو

فيل او موږک

ولاړې اوبه

ليکل

و

د

ـو

ـد

ـو



ـد

واو ره	واوره	دَر مَلـ ـتون	دَرمَلتون
وَ حيـ ـده	وَحيده	دو يم	دويم

توکه

بَريالى او توريالى ورونه دي.



توريالى په باغچه کې ناست و. درس يې لوستلو. خو بريالى بېکاره ګرځېده. په دې وخت کې آس وششنېده.

بريالي پوښتنه وکړه:

دا آس ولې ششنېږي؟

توريالي په خندا وويل: په تا پورې خاندي. ځکه چې درس نه وايې.

آ

ـس


ـا

ـسـ

حُسنا
ـا

س

آذان	آ ذان	مُسلمان	مُـ سلـ مان
آسمان	آسـ مان	سَلام	سَـ لام

توکه

ولاړې اوبه

لیکل

	ا		ـا		ـا
	لـ		ـلـ		ـل
	بـ		ـبـ		ـب
	مـ		ـمـ		ـم

۱- فیل او موږک ______ وو. (خواړه، ملګري)

۲-خوراک په اندازه ______. (کوه، کارونه)

۳- توریالی په ______کې ناست و. (آس، باغچه)

۴- دا آس ولې ______؟ (ششنېږي، وايي)

فیل او موږک



١	ه	و	ذ	بـ
٢	جـ	ع	آ	ن
٣	ل	ر	هـ	گـ
٤	ظ	پ	غـ	ا

٥	ـلـ	ج	س	ډ
٦	ـد	ر	ـسـ	ز
٧	قـ	م	ک	ح
٨	تـ	ـو	ـعـ	ـب

١ 

میله
منه
کیله
توله

٢

کور
سر
لمر
تور

٣

جاکټ
ساعت
دولت
ملت

٤ 

آرام
بادام
ماشوم
دام

٥

سودا
دادا
ماما
دوا

٦

بار
کار
انار
تار

توکه

اِملا

و د آ س

بو عد سآ طس

بو

عد

سآ

طس

ی

او ړی	اوړی
سیو ری	سیوری
ستو ری	ستوری
یو ځای	یوځای

د کال فصلونه

یَما له یَعقوب څخه پوښتنه وکړه: یو کال څو فَصله دی؟
یَعقوب ورته وویل: یو کال څلور فَصله دی. یَما وویل:
نومونه یې راته واخله.
یَعقوب وویل: پسرلی، اوړی، منی، ژمی. دا یې هم
وویل چې هر فَصل
درې میاشتې دی.
هره میاشت څلور
اونۍ ده. هره اونۍ
اووه ورځې لري.



	يـ
	ـيـ
	ی

يَعـ قوب	يَعـقوب
يَـ ـما	يَما
کَـ ـميـس	کَميس
منـ ـگی	منگی

د کال فصلونه

ښيګڼه

ليکل

ت

تِـ لا وت	تِلاوت
عِـ با دت	عِبادت
قـ لات	قلات
سَـ خا وت	سَخاوت

د غاښونو ساتنه

تلوسې په غاښونو بادام ماتول. غاښ يې خوږ شو. پلار يې روغتون ته بوتله. ډاکټرې له تلوسې څخه پوښتنه وکړه: غاښ دې ولې خوږ شوی دی؟ تلوسې وويل: بادام مې پرې مات کړي دي. ډاکترې وويل:

دَرمَل به دَرکړم.
غاښ به دې ښه
شي. نور ګوره
په غاښونو کلَک
شيان مه ماتَوه.

	تـ
	ـتـ
	ـت

تورپېکۍ	تور پېـ ـکۍ
پوښتـنه	پوښـ ـتـ ـنه
ماتَول	ما تَـ ـول
ساعت	سا عت

د غاښونو ساتنه

ښېگڼه

لیکل

يـ

تـ

ـيـ

ـتـ

ي

ـت

۱- يو کال څلور ______ دی. (مَکتَب، فَصله)

۲-َهر فَصل ______ میاشتې دی. (دري، څوکۍ)

۳- تلوَسې په ______ بادام ماتَول. (غاښونو ، مخ)

۴-غاښ يې خوږ ______. (تلوَسه، شو)

د غاښونو ساتنه



و

د

آ

سـ

ـو

ـد

ـا

ـسـ

ـو

ـد

حُسنا
ـا

ـس

هجا

بریالی	بر یا لی	حامِد	حا مِد
کِتاب	کِ تاب	دَرمَلتون	دَر مَل تون
ماشوم	ما شوم	گُلدانۍ	گُل دا نۍ

د غاښونو ساتنه

اِملا

ت
بت جت ست عت لت

بت
جت
ست
عت
لت

ر

ر ڼا	رڼا
سـ ـهـا ر	سهار
ر وان	روان
خو ر ي	خوري

د وَخت ارزښت

بریالي ډېر وَخت په لوبو تېراوه.
رڼا ورته وویل: ورور‌ه! له سَهاره تر ماښامه لوبې کوې. درسونه به دې کله لولې؟ بریالي وویل: بیا به یې ولولم. وخت ژر تېرېده.
امتحانونه راورسېدل.
رڼا اول نومره شوه. د بریالي نومرې کمې وې.
بریالي له ځان سره وویل: خور مې رښتیا ویل. اوس د وخت په ارزښت پوه شوم.

ر

ـر

ـر

روان	ر وان
بَرَکت	بَ ـرَ کت
کورَنۍ	کو رَ نۍ
بزگر	بـز گر

د وخت ارزښت

ښکلې ولسوالي

لیکل



پ

شا کوپ	شاکوپ
غو ړپ	غوړپ
گروپ	گروپ
توپ	توپ

آزادي

پَرویز په پنجَره کې مرغان ساتلي وو. مور یې ورته وویل: زویه! آزاد یې کړه. بَچي به لَري. آزار به درته وکړي.

پرویز نه مَنله. بله ورځ د دوی یو کَلیوال راغی. هغه له زندان څخه آزاد شوی و.

هغه خپل ماشومان په غېږ کې ونیول. د خوشحالۍ اوښکې یې تویولې. پرویز راغی، بَندي مرغان یې آزاد کړل.

	پـ
	ـپـ
	ـپ

پنـجَره	پنـ جَـ ـره
لَپه	لَـ ـپه
پَرويز	پَر ويز
کپ	کپ

آزادي

ښکلې ولسوالي

ليکل

ر

پ

ـر

ـپـ

ـر

ـپ

۱- له سَهاره تر ماښامه ______ کوي. (لوبې، مکتب)

۲- اوس د ___ په ارزښت پوه شوم. (سپين، وخت)

۳- آزار به درته ______. (وکړي، خوشحال)

۴- بندي مرغان يې ______ کړل. (پنجره، آزاد)

د وخت ارزښت

	آ		ـا	 حُسنا	ـا
	سـ		ـسـ		ـس
	یـ		ـیـ		ـی
	تـ		ـتـ		ـت

هجا

آصِف	آ صِف	گاونډی	گا ونـ ډی
آفَرین	آ فَـ رین	ورته	ور ته
سَهار	سَـ هار	شَفتالو	شَفـ تـا لو

آزادي

اِملا

پ

پا بپ سپ عپ طپ

پا

بپ

سپ

عپ

طپ



ن

آ سان	آسان
ایـ مان	ایمان
آسـ مان	آسمان
کار وان	کاروان

کِتاب

مینې او امان الله کتابونه لوستل. مینې امان الله ته وویل: وروره! یو ښه شعر خو راته وو‌ایه. امان الله وویل: سمه ده. د کتاب شعر به درته ووایم.

آسمان کې زانې دي — کِتاب کې پاڼې دي
زانـې وَزرې لـرې — کِتاب خبرې لـرې
کِتاب ملګری زما — کِتاب ملګری د تا
کِتاب ښه خوند لـري — پوهـه د ژوند لـري


نـ

ـنـ

ن

ناهید	نا هیـد
رَنګینه	رَنـ ګیـ ـنه
کِتابونه	کِـ تا بونه
لمن	لـ ـمن

کِتاب

اوبو وړی پُل

لیکل

ج

ر واج	رواج
سِ ـراج	سِراج
وَ هاج	وَهاج
مُحـ ـتاج	مُحتاج

کیسه



جمیله او نجیبه سره ټولګیوالې دي. یوه ورځ یې په باغچه کې دَرسونه ویل. دواړه ستړې شوې. جمیلې وویل: یوه کیسه به درته ووایم.

جامه یې تکه توره　　　په خپله سپین وي، ګوره!
جامه یې د لرګیو　　　په خپله د غوړیو
وایه څه دی؟ وایه څه دی؟
ځواب ته زما زړه دی
نجیبې ورته وویل: پوهه شوم. جلغوزی دی.

جـ

ـجـ

ج

جمیله	جـ ـمیـ ـله
نَجیب	نَـ ـجیب
جَمال	جَـ ـمال
حج	حج

کیسې



اوبو وړی پُل

لیکل



نـ

جـ

ـنـ

ـجـ

ن

ج

۱- کِتاب ________ لري. (خبرې، کتابچه)

۲- زانې ________ لري. (ونې، وَزرې)

۳- جامه يې د ________. (لرګيو، خاوره)

۴- په خپله ________ وي، ګوره! (تور، سپين)

کِتاب



یـ

تـ

ر



پـ

ـیـ

ـتـ

ـر



ـپـ

ـی

ـت

ـر

ـپ

هجا

رڼا	ر ڼا	پنجره	پنـ ـجـ ـره
بریالی	بر یا لی	ګاونډی	ګا ونـ ـډی
پوښتنه	پوښـ ـتـ ـنه	یَما	یَـ ـما

کیسې

اِملا

ج

جا جد جس جص جط

جا

جد

جس

جص

جط

ک

چا لاک	چالاک
ځیـ ـرَک	ځیرَک
مو ړک	موړک
سَـ ـړک	سَړک

ترافیک پولیس

کریم د ځیرَک ماما دی. هغه ترافیک پولیس دی. ځیرَک ورځخه پوښتنه وکړه: ماما! دا څراغونه د څه لپاره دي؟



کریم وویل: دا ترافیکي څراغونه دي. دا نه پرېږدي چې موټرونه سره ټَکر شي.
هر رنګ یې یوه معنا لري.
سور څراغ وايي، ودَرېږه.
ژېړ څراغ وايي، تَیار شه.
شین څراغ وايي، تېرېږه.

کـ	ـکـ
ـک	

کریم	کـ ـریم
ټَکر	ټَـ ـکر
مکتب	مکـ ـتب
ترافیک	تـ ـرا فیک

ترافیک پولیس

له سَړک څخه تېرېدل

لیکل



ټ

آ لو کا ټ	آلوکاټ
کُو ها ټ	کُوهاټ
پیـ لو ټ	پیلوټ
وا ټ	واټ

ټال

خَټک او خاټوله سره ورور او خور دي. خَټک په ټال کې ټالۍ وهي. خاټوله چینډرۍ کوي. دواړه کټ کټ خاندي او دا ترانه وايي.

ټال ټال ټالۍ وهم — ټوپ ټوپ چینډرۍ وهم
دا د چوترې غاړه ده — دلته پَلَتۍ وهم
ټال ټال ټالۍ وِهم — شپېلۍ وهم شپېلۍ وهم
ډکه د مَستو کِټو — زه په کې ثمڅۍ وهم

	ټـ
	ـټـ
	ـټ

ټولګي	ټولـ ـګي
پټو	پـ ـټو
کَټوه	کَـ ـټـ ـوه
کریکِټ	کریـ ـکِټ

ټال

له سَړک څخه تېرېدل

لیکل



۱- شین څراغ وایي ـــــــــــ . (ټبرېږه، کړکۍ)

۲-سور څراغ وایي ـــــــــــ . (پړانګ، ودرېږه)

۳-ټال ټال ـــــــــــ وهم. (ټالۍ، پنسل)

۴-ټوپ ټوپ چیندرۍ ـــــــــــ . (وهم، کټ)

ترافیک



ر ـر ـر

پـ  ـپـ ـپ

نـ  ـنـ ـن

جـ ـجـ ـج

هجا

پَلی	پَ لی	ویجاړه	ویـ ـجا ړه
زَرغونه	زَر غو نه	مَرجان	مَر جان
ارزښتناک	ار زښتـ ـناک	پرویز	پر ویز

ټال

اِملا

ت
تا بت تن تد تک

تا
بت
تن
تد
تک

یـ
تـ

ـیـ
ـتـ

ی
ت

یَ ـما	یَما	تَو ده	تَوده
تـ ـربي	تربي	کِـ ـتاب	کِتاب

تږي ګُلان

د اوړي ورځ وه. هوا تَوده وه. لَیلا او یَما له ښوونځي څخه کور ته راغلل. کورنۍ ډَنده یې ولیکله. مازدیګر باغچې ته

ووتل. لوبې یې کولې. لَیلا وویل: دا ګُلان ولې داسې مړاوي دي؟ یما وویل: دا خو تږي دي. دواړو ګُلان اوبه کړل. ګُلان وغوړېدل. لَیلا وویل: واوا! وګوره، ګُلان خوشحاله شول.

	ر		ـر		ـر
	پ		ـپـ		ـپ

رمه	ر مه	پوښتنه	پوښـ تـ نه
پروا	پـر وا	لَپه	لَ ـپه

تړي ګلان

میږه او لیوه



لیکل

	نـ		ـنـ
	جـ		ـجـ

	ن
	ج

نَ ـجیـ ـبه	نَجیبه
منـ ـگی	منگی

جا مي	جامي
نَ ـجیب	نَجیب

په لوبو کې پام کول

د جُمعې ورځ وه. نَجیبه او جمیله په ټال کې زَنګېدلې. د نَجیبې څپلَکه ولوېده. لاس یې پسې وغځاوه. له ټال څخه راولوېده. جمیلې راپورته کړه.

پوښتنه یې ترې وکړه: ژوبله شوې خو به نه یې؟ نَجیبې جامې وڅَنډلې، ویې ویل: نه، نه، ښه یم. مور یې راغله. ورته ویې ویل: ګورئ! لوبې کوئ، خو بې پَروايي مه کوئ.

ک
ټ

ـکـ
ـټـ

ـک
ـټ

کَریم	کَ ـریم	تالۍ	تا لۍ
چابک	چا بک	آلوکاټ	آ لو کاټ

په لوبو کې پام کول

میږه او لیوه



لیکل

يـ

تـ

ر


پـ

ـيـ

ـتـ

ـر

ـپـ

ی

ـت

ـر

ـپ

۱- د اوړي ________ وه. (ورځ، ساعت)

۲-دواړو ګُلان ________ کړل. (مازديګر، اوبه)

۳-د نجيبې ځپلکه ________. (ولوېده، ځمکه)

۴-لوبې کوئ، خو ________ مه کوئ. (لوبې، بې پروايي)

تېري ګُلان

۱	ا	پ	ب	س
۲	ح	خ	ج	ف
۳	ک	ق	ل	م
۴	د	ه	ن	ی

۵	ز	ر	ړ	ژ
۶	ټ	ب	ح	ث
۷	ط	ظ	ش	ت
۸	ډ	ذ	ن	ح

۱ 
پاک
تاک
ناک
خوک

۲
کوم
یوم
بام
ناکام

۳
جارو
کار
جوال
جوار

٤ 
کله
بلبله
تله
بله

۵
ټال
ټکر
ټغر
ټول

٦
چاغ
باغ
کاغ
بیرغ

په لوبو کې پام کول

اِملا

ن ج ک ټ
نم جا کا ټک

نم
جا
کا
ټک

ړ

وړاند ـدي	وړاندي
دوا ړه	دواړه
ګو ړه	ګوړه
وَ ړۍ	وَړۍ

دوه ملګري

یو ړوند او یو شَل سره ملګري شول. ړانده لاره نه لیده. شَل پر لاره نه شو تللای. دواړو داسي مشوره وکړه: شَل به ړانده ته ور په شا شي. ړانده ته به لاره ښیي. ړوند به د شَل په لارښوونه وړاندي ځي. په آخر کي دواړه خپل ځای ته ورسېدل. په مشوره او مرسته کارونه آسانېږي.

	ړ
	ـړ
	ـړ

ړومبی	ړومـ ـبی
لَړم	لَـ ـړم
وَګړي	وَ ګـ ـړي
انګړ	انـ ـګړ

دوه ملګري

موږک او زمری

لیکل

خ

شا هـ ـرُ خ	شاهرُخ
پـ ـرا خ	پراخ
پوخ	پوخ
نباخ	نباخ

خاتوله

شاهرُخ کور ته راغی. خاتوله خور یې خَپه وه دا شِعر یې ورته ووایه:

واي ــه څ ــه خَبـ ــره ده؟
ماتـ ــه یـ ــې نانځکـ ــه ده
پښـ ــه بـ ــه یـ ــې پیـ ــدا کـ ــړم
خور بـ ــه مـ ــې پـ ــخـ ــلا کـ ــړم
گـ ــډې لـ ــوبـ ــې تـ ــل کـ ــوو

خـ ــور مـ ــې مَـ ــروره ده
پښـ ــه یـ ــې ترېنـ ــه ورکـ ــه ده
جـ ــوړه بـ ــه یـ ــې بیـ ــا کـ ــړم
دا بـ ــه دلاسـ ــا کـ ــړم
میـ ــنه یـ ــو پـ ــر بـ ــل کـ ــوو

خاتوله خوشحاله او په خندا شوه.

	خـ
	ـخـ
	ـخ

خَبره	خَـ بـ ـره
پخلا	پـ ـخـ ـلا
شاهرُخ	شاهـ ـرُخ
مخامخ	مـ ـخا مخ

خاتوله

موږک او زمری

لیکل

	ړ		ـړ		ـړ
	خـ		ـخـ		ـخ

۱- ړانده لاره ________ .
۲-شَل ________ نه شو تللای.
۳- خور به مې ________ کړم.
۴-دا به دلاسا ________.

(نه‌لیده، مشوره)
(ځنګل، پر لاره)
(پخلا ، لوبې)
(خورم، کړم)

دوه ملګري

	نـ		ـنـ		ـن
	جـ		ـجـ		ـج
	کـ		ـکـ		ـک
	ټـ		ـټـ		ـټ

هجا

کرېکِټ	کرېـ ـکِټ	ناجو	نا جو
آلوکاټ	آ لو کاټ	ترافیک	تـ ـرا فیک
نَجیبه	نَـ ـجیـ ـبه	اِکرام	اِکـ ـرام

خاټوله

اِملا

خ

بخ خت خق طخ عخ

بخ

خت

خق

طخ

عخ

ش	

مَـ ـعاش	مَعاش
درې دېرش	درې دېرش
پِنـ ـسل تراش	پِنسل تراش
داش	داش

د شاتو دوکان

شمس د بَکتاش پلار دی. هغه د شاتو دوکان لري. بَکتاش به کورنۍ دنده لیکله، وروسته به دوکان ته وَرتلو. بَکتاش به د دوکان مخه جارو کوله.

یوه ورځ بَکتاش ناروغه شو. دوکان ته ولاړ نه شو. د شمس هېر شول چې د دوکان مخه صَفا کړي. ښاروالۍ جَریمه کړ. اوس شمس هر وخت د دوکان مخه صَفا کوي. مُشتریان یې هم ډېر شوي دي.

	شـ
	ـشـ
	ش

شاکر	شا کر
شَمله	شَمـ له
پیشو	پیـ ـشو
خط کش	خط کش

د شاتو دوکان

د ښوونکي حقونه

لیکل



غ

څ ـراغ	څراغ
نا روغ	ناروغ
بَیـ ـرَغ	بَیرَغ
د ماغ	دماغ

بَیرَغ

غفار پَغمان ته ولاړ. هلته یې طاقِ ظَفر ولید. د طاقِ ظَفر پر سر د افغانستان بَیرَغ رَپېده. له پلار څخه یې وپوښتل: پلاره!

بَیرَغ څه شی دی؟



پلار یې ورته وویل: بَیرَغ زموږ د خپلواکۍ نښه ده. زموږ بَیرَغ درې رَنګه لري، تور، سور او زَرغون. زموږ بیرغ ښکلی دی. موږ د خپل بَیرَغ درناوی کوو.

غـ

ـغـ


ـغ

غَفار	غَـ ـفار
زَرغون	زَر غون
افغانان	اف ـغا نان
کَتغ	کَـ ـتغ

بَیرَغ

د ښوونکي حقونه

لیکل

	شـ		ـشـ		ـش
	غـ		ـغـ		ـغ

۱- بَکتاش به د دوکان مخه ــــــ کوله. (جارو ، خَځلې)

۲- شَمس د بکتاش ــــــ دی. (کِتاب، پلار)

۳- بیرَغ زمونږ د ــــــ نښه ده. (غښتلی ، خپلواکۍ)

۴- غَفار ــــــ ته ولاړ. (کِتاب، پَغمان)

د شاتو دوکان

	کـ		ـکـ		ـک
	ټـ		ـټـ		ـټ
	ړ		ـړ		ـړ
	خـ		ـخـ		ـخ

هجا

کرېکِټ	کرېـ ـکِټ	لَړم	لَـ ـړم
آلوکاټ	آ لو کاټ	خولۍ	خو لۍ
خاټوله	خا ټو له	ګیدړ	ګیـ ـدړ

بَیرَغ

اِملا

غ
غا غټ غذ غر غس
غا
غټ
غذ
غر
غس



ز

زَلـ ـمی	زَلمی
زېـ ـری	زېری
زا من	زامن
نو روز	نوروز

زیارکَښ بزګر

د زلمي پلار بزګر دی. هغه پیاز کرلي وو. زلمی له ښوونځي څخه کور ته رَوان و. پلار یې په کَرونده کې پیاز اوبه کول. زلمي له سلام وروسته وویل: د پیازو پاڼې مړاوې وې. اوس به تازه شي. پلار یې وویل: زویه! اوبه پیازو ته نوره څه ګټه لري؟ زلمي وویل:

د پیاز غوټې غَټېږي.

پلار یې وویل: آفرین! په مکتب کې ډېر هوښیار شوی یې.

ز
ـز
ـز

زلمی	زلـ ـمی
زرگر	زر گر
بزگر	بز گر
مَمیز	مَـ ـمیز

زیارکَښ بزګر

د مرغانو سیمه

لیکل

چ

ما لوچ	مالوچ
بَـ لوچ	بَلوچ
مرچ	مرچ
کوچ	کوچ

چاغې چرګې

کوچی د تَرکاریو دوکان لري. کوچی مرچ، کَچالو، پالک او نور سابه خرڅوي. مېرمني به يې په کور کې تَرکارۍ صفا کولې. پاتې شوني به يې پر ډېران غورځول. ګاوَنډۍ مېرمنې غونچې ورته وويل: د تَرکارۍ پاتې شوني وَلې ايسته اچوې؟ چرګې وساته. د تَرکارۍ پاتې شوني چرګو ته اچوه. د کوچي مېرمنې همداسې وکړل. چرګې يې واخيستې. د دوی چرګې چاغې شوې. اوس هره ورځ هګۍ اچوي.



	چـ
	ـچـ
	ـچ

چرګې	چـ رګې
غونچه	غونـ ـچه
کوچۍ	کو چۍ
سوبچ	سـ ـوبچ

چاغې چرګې

د مرغانو سیمه

لیکل

ز

چ

ز

 چ

ز

چ

۱- د زلمي پلار ــــــــــ دی.
۲- هغه ــــــــــ کرلي وو.
۳- کوچې د ــــــــــ دوکان لري.
۴- د دوی چرګې ــــــــــ شوې.

(بزګر، لاربنوونه)
(بکس، پیاز)
(ښوونه، ترکاریو)
(چاغې، چرګوړي)

زیارکښ بزګر



	ړ		ـړ		ـړ
	خـ		ـخـ		ـخ
	شـ		ـشـ		ـش
	غـ		ـغـ		ـغ

هجا

ګوړه	ګو ړه	شیبه	شیـ به
دواړه	دوا ړه	افغانان	افـ غا نان
خاتوله	خا تو له	بَیرَغ	بَیـ رَغ

چاغې چرګې

اِملا

چ

چت چد چر چو چی

چت

چد

چر

چو

چی

ښ

سر پوښ	سرپوښ
با لا پوښ	بالاپوښ
نا خوښ	ناخوښ
اوښ	اوښ

کوکوپښ

ښاپېرۍ خپل ورور اجمل ته وويل: د کوکوپښ شعر دې اورېدلی دی؟

اجمل وويل: نه. ښاپېرۍ وويل: زه به در ته د کوکوپښ شعر ووايم.

موږ ته راکړه دوه ښکي — کوکوپښه، پښه، پښه
سبا راشه په اتڼ — در واده به کړو چونګښه
د اوبو غاړې ته راشه — کوکوپښه، پښه، پښه
شين خالي چونګښه يوسه — ستا جوجوغه شخه پخه

اجمل وويل: ښومره ښکلی شعر و.

ښاپېرۍ وويل: مننه.

	ښـ
	ـښـ
	ـښ

ښوونځی	ښو ونـ ـځی
هوښیار	هوښـ ـیار
مَښوکه	مَـ ـښو که
کوکوپښ	کو کو پښ

کوکو پښ

له ماشومانو سره مینه

لیکل

گ

ور دگ	وردگ
بـ ـزرگ	بزرگ
برَگ	برَگ
چرگ	چرگ

گُلان

گُلاب خان بَڼ لري. په بَڼ کې يې رنگ رنگ گُلان شته. سره، سپين، ژېړ، نارنجي او گُلابي گُلان. هر گُل ښايسته ښکارېږي.

گُلاب خان گُلان خَرڅوي. هغه ښې پيسې گټي. ځينې گُلان ښه بوی لري. له ځينو گُلانو څخه عَطر جوړېږي. د سنځلو، گُلابو او نارنجو عَطر ښه بوی لري. خلک دغه عَطرونه خوښوي. د شاتو مُچۍ له گُلانو څخه شات جوړوي.

	گـ
	ـگـ
	ـگ

گُلاب	گُـ ـلاب
ځنگل	ځنـ ـگل
پالنگ	پا لنگ
لَونگ	لَـ ـوَنگ

گُلان

له ماشومانو سره مینه

لیکل

	ښـ		ـښـ		ـښ
	ګـ		ـګـ		ـګ

۱- شین خالۍ ـــــــ یو سه. (چونګښه، قلم)

۲- ستا ججوغه شخه ـــــــ . (پخه، څوکۍ)

۳- ځينې ګُلان ـــــــ بوی لري. (خوند، ښه)

۴- ګُلاب خان ګُلان ـــــــ. (خرڅوي، غرڅه)

کوکوښ

	شـ		ـشـ		ـش
	غـ		ـغـ		ـغ
	ز		ـز		ـز
	چـ		ـچـ		ـچ

هجا

شُغله	شُغـ له	کَچالو	کَـ ـچا لو
چاغي	چا غي	چرگان	چر گان
زیارکَښ	زیار کَښ	اَفغانان	اَفـ غا نان

گُلان

اِمـلا

گـ
گا گب گج گد گر
گا
گب گج گد گر

ړ		ړ		ړ	
خ		خ		خ	

ړوم بی	ړومبی	خو لی	خولۍ
لَ ړم	لَړم	تخ ته	تخته

ګيدَړه او ښارو

يوه وَزر ماتې ښارو پر ښاخ ناسته وه. په ونه کې غومبسو هم ځاله جوړه کړې وه. ګيدَړه له کومې خوا څخه راغله. پر ښارو يې سترګې ولګېدې. تر ونې لاندې ورته تاوېده را تاوېده. ګېدَړې غوښتل چې پر ښارو باندې سَر وګرځوي. ښارو لاندې راولوېږي او دا يې وخوري. غومبسې له ښارو سره مرسته وکړه. ګيدَړه يې پر پَزَه وچيچله. ګيدَړه وتښتېده. ښارو يې له شَره خلاصه شوه.

شـ

غـ

ـشـ

ـغـ

ـش

ـغ

شـ ـمع	شمع	غو ـمـ ـبـ ـسي	غومبسي
پیـ ـشو	پیشو	تَـ غر	تغر

ګیډَره او ښارو

پیشو او موږک

لیکل

	ز		ـزـ		ـز
	چـ		ـچـ		ـچ

ز لمی	زلمی	چیـ ـچل	چیـچل
بَز گر	بَزگر	مـ ـچۍ	مـچۍ

د مچیو ځاله

زلمي تر ونې لاندې کتاب لوست. پر ونه د انګورو تاک غځېدلی و. زلمی ورپورته شو چې انګور وشکوي. هغه چې وَړې شکاوه، مچۍ وچیچه.

زلمي چیغه کړه. انګور يې له لاسه ولوېدل. ملګرو يې رامنډې کړې. د زلمي لاس ته يې وکتل. یوه ملګري وویل: ته خو پر مچیو ډېر ګران يې. وګوره! څنګه يې لاس درته مچو کړ. زلمي خپل درد هېر کړ او په خندا شو.

	ښـ		ـښـ		ـښ
	ګـ		ـګـ		ـګ

ښو ونـ ـځی	ښوونځی	ګُـ ـلاب	ګُلاب
کو ښـښ	کوښښ	ځَنـ ـګل	ځَنګل

د مچیو ځاله

پیشو او موږک

لیکل

	ړ		ـړ		ـړ
	خـ		ـخـ		ـخ
	شـ		ـشـ		ـش
	غـ		ـغـ		ـغ

۱- پر ښارو يې ______ ولګېدي. (سترګي،ونه)

۲- ګیدَړه يې پر پزه ______. (لاس، وچيچله)

۳- زلمي تر وني لاندې ______ لوست. (کِتاب، انګور)

۴- هغه چې وږی شکاوه، ______ وچيچه. (لوست، مچۍ)

ګیدَړه او ښارو

۱	ع	ـفـ	ـشـ	ـو
۲	ـگ	ـد	ژ	ـب
۳	ا	ـر	ـفـ	ـړ
٤	ـبـ	ـغـ	ج	ـخ

٥	ـق	ـړ	ـد	ـښ
٦	خـ	آ	ـهـ	ذ
٧	س	ـز	ط	غ
٨	ج	حـ	ـچـ	ه

۱	۲	۳	٤	٥	٦
					
شفیع	مزار	سرې	غر	تخت	مخ
شمع	ممیز	زلمی	غرمه	پخته	مچۍ
شال	میز	زوړ	ناروغ	پوخ	مچ
شرم	مزدور	زمری	غر	تخته	مالوچ

د مچیو ځاله

اِملا

ز چ ښ گ
جز چد ښنا گج

جز
چد
ښنا
گج



ژ

رو ژه	روژه
ژَ به	ژَبه
ژَ مى	ژَمى
ژرنـ ده	ژرنده

لیک او لوست

مُژده او منیژه مکتب ته تللې وې. بَرقي د بریښنا بِل راوړی و. بِل یې د دوی پلار ته ورکړی و. دوی چې له مکتب څخه راغلې، پلار یې وویل: لونو! دلته راشئ. دا بِل وګورئ. منیژه ژر ورمخ ته شوه. بِل یې ولوست.

پلار ته یې وویل: دا خو د ژرنده ګړي د بریښنا بِل دی.

پلار یې له ځان سره وویل: که په لیک پوهېدای، پرَدَی بِل به مې نه اخیست. زه به خامخا لیک او لوست زده کَوم.

ژ	ـژ
ـژ	

ژمني	ژ ـمـ ـني
منیژه	مـ ـنیـ ـژه
نژدي	نـژ دي
بنداژ	بنـ ـداژ

لیک او لوست

د ډوډۍ خوړلو ادبونه

لیکل

ځ

گَ ـهیـځ	گَهیځ
ږ منځ	ږمنځ
پوځ	پوځ
ورځ	ورځ

وږې سُویه

یو ځوان هَره ورځ د ځنګله له ځنګه تېرېده. ځوان به له کلي څخه ګازرې راوړې. ګازرې به یې په بازار کې خرڅولې. یوه ورځ یې یوه ځنګلي سُویه ولیده. سُویه پر لاره بې حاله پرته وه. ځوان سُویه را پورته کړه. ګازره یې ورته ونیوه. سُویې ګازره ژر ژر وخوړه. ځوان پوه شو چې سُویه ډېره وږې ده. یو څو نورې ګازرې یې هم ورکړې.

سُویه چې مَړه شوه، په ترَپَکو ځنګله ته ننوته.

ځـ	
ـځـ	
ـځ	

ځَنګل	ځَنـ ـګل
ښځه	ښـ ـځه
اِنځر	اِنـ ـځر
ګهيځ	ګـ ـهيځ

وړې سُويه

د ډوډۍ خوړلو ادبونه

ليکل

	ژ	مژګان	ـژ		ـژ
	ځ		ـځـ		ـځ

۱- مُژده او منيژه ــــــ ته تللې وې. (مکتب، خبره)

۲- بَرقي د بريښنا بِل ــــــــــــ. (برق، راوړی و)

۳- يوه ورځ يې يوه ځنګلي ــــــــ وليده. (خبره، سُويه)

۴- سُويه پر لاره ــــــــ پرته وه. (بې حاله، موټر)

ليک او لوست

ز

ـز

ـز

چـ

ـچـ

ـچ

ښـ

ـښـ

ـښ

ګـ

ـګـ

ـګ

هجا

زَلمی	زَلـ ـمی	ښکلی	ښکـ ـلی
مچۍ	مـ ـچۍ	ګیدَړه	ګیـ ـدَ ړه
وچیچله	و چیـ ـچـ ـله	تخته	تخـ ـته

وړې سُویه

اِمـلا

ځ
ځا ځب ځک ځل ځم
ځا
ځب
ځک
ځل
ځم



ډ

ډو ډۍ	ډوډۍ
ډ ېـ ـوه	ډېوه
هوډ من	هوډمن
ډ ا لۍ	ډالۍ

ګډ کار

ډېوه له ښوونځي څخه کور ته راغله. ګوري چې مور يې کالي ګَنډي. ډېوې وويل: مورې! پلار مې چېرته دی؟

مور يې وويل: د غنمو لَو ته تللی دی. ډېوې وويل: چې ډوډۍ وخورم، بيا به زه هم ورشم.

ډېوې ډوډۍ وخوړه. د غنمو پَټې ته ورغله. پلار يې د غنمو ګېډَۍ راغونډولې. ډېوې هم ورسره ګېډۍ راغونډې کړې. کار ژر تمام شو. پلار يې وويل: خير يوسې لورې! ګډ کار بَرَکَت لري.

ډ

ـډ

ـډ

ډیوه	ډ یـ ـوه
ګیډۍ	ګیـ ـډ ـۍ
ګنډي	ګنـ ـډ ـي
راغونډ	را غونډ

ګډ کار

د خبرو کولو ادبونه

لیکل

ځ

سَر لوڅ	سَرلوڅ
بَـ لوڅ	بَلوڅ
غوڅ	غوڅ
بوڅ	بوڅ

غرڅه

ځانګه له پلار سره ځنګله ته ولاړه. له يو څه مَزله وروسته ځانګه ستَړې شوه. په ځنګله کې تر يوې ونې لاندې کښېناستل. ګورې چې له غره څخه څو غرڅې راکښته شوې. د غره په لمن کې څملاستې. يوې غرڅې په لوړ ځای ورته ځار کاوه. څو شېبې وروسته ځارونکې غرڅې څه ولیدل. چیغه يې وکړه. نورې غرڅې پاڅېدې او وتښتېدې. پلار ځانګې ته وويل: ګوره لورې! ځاروي هم د ځان په ساتلو پوهېږي.

	څـ
	ـڅـ
	څ

څانګه	څا نـ ګه
کَڅوړه	کَ ـڅو ړه
غرڅه	غر څه
غوڅ	غوڅ

غرڅه

د خبرو کولو ادبونه



لیکل

ـډ		ـډ		ډ	
ـڅ		ـڅـ		څـ	

۱- ډېوه له ښوونځي څخه ــــ ته راغله. (قلم، کور)

۲- د ــــ لو ته تللی دی. (غنمو، پنسل)

۳- څانګه له پلار سره ــــ ته ولاړه. (څنګله، غومبسه)

۴- له یو څه مَزله وروسته څانګه ــــ شوه. (ستړې، غوږ)

ګډ کار

ښـ

ګ

ژ

ځـ


ـښـ

ـګ

ـژ


ـځـ

ـښ

ـګ

ـژ

ـځ

هجا

بريښنا	بريښـ ـنا	ژمۍ	ژ مۍ
دَره	دَ ره	ځَنګل	ځَنـ ـګل
ښکلي	ښکـ ـلي	ښځه	ښـ ـځه

غرڅه

اِمـلا

څ
څا بڅ څت څج څد

څا
بڅ
څت
څج
څد

ړ

ړ منځ	ړمنځ
ړیـ ـره	ړیره
ړَ لۍ	ړَلۍ
وَ ړی	وَړی

ړَلۍ

وړمه له ښوونځي څخه کور ته روانه وه. ناڅاپه، په آسمان کې توري وریځې را پَیدا شوې. وړمه کور ته نه وه رسېدلې چې باران شو. سپوړمۍ د وړمې مور وارخطا شوه. زوی ته یې غَږ کړ: ولي زویه! چَترۍ واخله. په وړمې پسې ورشه. هسې نه چې ړَلۍ وشي. ولي وړمې ته چَترۍ وروړه. دوی چې کور ته راورسېدل، سخته ړَلۍ و وربده. وړمې ولي ته وویل: مننه لالا جانه. که دې چَترۍ نه وای راوړې، لَنده خیشته به وم.

	ږ
	ـږ
	ـږ

ږَلۍ	ږَ لۍ
ږيره	ږيـ ـره
کېږدۍ	کېږ دۍ
ورمېږ	ور مېږ

ږَلۍ

بابر بڼ



لیکل



ق

صا دِق	صادِق
طا رِق	طارِق
فا روق	فاروق
اَخـ ـلاق	اَخلاق

بې ځايه لوبې

قُدسیه او یَعقوب خور او ورور دي. یَعقوب قُدسیې ته وویل: راځه چې پر بام ګوډۍ والوځوو. قُدسیې وویل: نه، نه. دا خو خَطَر لري. یَعقوب یې خبره و نه منله. بام ته وخوت. ګوډۍ یې هوا ته پورته کړه. یَعقوب پاس ګوډۍ ته کتل.

شا ته روان و چې یو ناڅاپه له بامه را وغورځېده. قُدسیې چیغې کړې. پلار یې قاهِر په منډه راغی. یَعقوب یې روغتون ته یووړ. الله ﷻ یَعقوب روغ کړ. اوس هغه بې ځایه لوبې نه کوي.

قـ

ـقـ

ق

قلم	قـ لم
تقسیم	تقـ سیم
رَفیق	رَ فیق
شَفَق	شَ فَق

بې ځایه لوبې

بابر بَڼ

لیکل

	ږ		ـږـ		ـږ
	قـ		ـقـ		ـق

۱- ولي وږمې ته ______ وروړه. (ښوونځی، چترۍ)

۲- سخته ______ و وربېده. (ږلۍ، کټ)

۳- ګوډۍ يې هوا ته ______ کړه. (پورته، سويه)

۴- الله جل جلاله يَعقوب روغ ______. (ګوډۍ، کړ)

ږَلۍ

	ژ		ژ		ژ
	ځ		ځ		ځ
	ډ		ډ		ډ
	څ		څ		څ

هجا

ډوډۍ	ډو ډۍ	څارونکی	څا رون کی
ډبوه	ډ بـ وه	ځنګل	ځن ګل
څانګه	څان ګه	ښځه	ښـ ځه

بې ځایه لوبې

اِملا

ق

بق جق صق طق عق

بق
جق
صق
طق
عق



ف

مـ عا رِف	معارِف
نَـ دا ف	نَداف
اَشـ ـر ف	اَشرف
شَـ ـرَ ف	شَرَف

فیل

فیل یو ځنګلي او قوي ځناور دی. فیل لنډه لکۍ او اوږد خَرطوم لري. فیل خواږه او اوبه په خَرطوم سره خولې ته وړي. فیلان غټ او پلن غوږونه لري. فیلان ډلې ډلې ګرځي. فیلان په ګډه له ځانه دفاع کوي. د هِند او اَفریقا په ځنګلونو کې فیلان ډېر دي. فیلان ډېر درانه بارونه وړلی شي.



په پخوا وختونو کې تجارتي مالونه په فیلانو لېږدېدل. د اَفغانِستان په ژوبڼ کې هم یو فیل و.

	ﻓ
	ﻔ
ظریف	ﻒ

فیلان	فیـ ـلان
اَفغانِستان	اَفـ ـغا نِسـ ـتان
شفتالو	شفـ ـتا لو
ظَریف	ظَـ ـریف

فیل

د وخت ارزښت

لیکل

ڼ

تر کاڼ	ترکاڼ
ځد راڼ	ځدراڼ
گل بڼ	گل بڼ
شـکوڼ	شکوڼ

د منو بَڼ

د رَڼا پلار یو ښکلی بَڼ لري. د دوی په بَڼ کې د منو ونې دي. د دوی بَڼ ژېړې او سرې منې لري. ژېړې او سرې منې ډېرې خوندَورې وي. په میدان وردګو کې د منو ډېر باغونه دي.



په بَڼ کې د منو ونې کتار کتار ولاړې وي. په منې کې د ونو ژېړې پاڼې ښکلې ښکارې. د منو او نورو مېوو خوړل ګټه لري. له منو ښځه خلک مُربا هم جوړوي. د منو مُربا خوندَوره او خوږه وي. زما مُربا خوښېږي.

ڼـ

ـڼـ

ـڼ

رَنا	رَ نا
مني	مـ ـني
پاني	پا ني
ژوبَڼ	ژو بَڼ

د مڼو بَڼ

د وخت ارزښت

ليکل


فـ

ڼـ


ـفـ

ـڼـ

ـف

ـڼ

۱- فیلان ــــــــ گرځي. (ډَلي ډَلي، خرطوم)

۲- فیلان ډېر درانه ــــــــ وړلی شي. (هوا، بارونه)

۳- دا بڼ زېړي او سرې ــــــ لَري. (اوبه، مڼې)

۴- د مڼو او نورو مېوو خوړل ــــــ لَري. (گټه، قلم)

فیل



	ډ		ـډ		ـډ
	څـ		ـڅـ		څ
	ږ		ـږ		ـږ
	قـ		ـقـ		ق

هجا

ډوډۍ	ډو ډۍ	غرڅه	غر څه
ګېډۍ	ګېـ ډۍ	ږمنځ	ږ منځ
ځانګه	ځانـ ګه	ورږمه	ورږ مه

د مڼو بڼ

املا

ڼ

بڼ جڼ سڼ فڼ لڼ

بڼ

جڼ

سڼ

فڼ

لڼ

ژ



ـژ

ـژ

ځـ

ـځـ

ـځ

ځنګل	ځنـ ګل	ژمی	ژ می
ږمنځ	ږ منځ	منیژه	مـ نیـ ژه

هوښیار بزګر

فضل کاکا په ځمکه کې په کار بوخت و. زوی یې ځیرک ناڅاپه چیغه کړه. پلاره ژر راشه! دا څه شی دی؟ پلار یې ژر ځان ور ورساوه. ورته یې وویل:

پام چې ور نږدې نه شې! ماین دی.
فضل کاکا د ماین ځای په نښه کړ.
کلیوال یې خبر کړل چې ځانونه او
ژاروي ځنې وساتي. فضل کاکا
ماین پاکان راوستل. ماین پاکانو
ماین وکیښ. خلک یې د ماین له
خطره وژغورل.

	ډ		ـډ		ـډ
	څـ		ـڅـ		څ

ډَنډر	ډَنـ ـډر	څَوکۍ	څَو کۍ
گېډۍ	گېـ ـډۍ	کڅوړه	ک ـڅو ړه

هوښيار بزگر

مرسته

ليکل

	ږ		ـږـ		ـږ
	ق		ـقـ		ـق

ږ منځ	ږمنځ	قُد رت	قُدرت
کیږ دۍ	کیږدۍ	زَنـ بق	زَنبق

قُدرت الله او خیرالله

قُدرت الله غنم ژرندې ته وړل. ژرنده له کلي څخه ډېره لرې وه. قُدرت الله په لاره کې ستړی شو. لاسي کراچۍ يې د لارې خوا ته ودروله. د ونې ډډ ته يې تکيه وکړه.

په دې وخت کې د ده ملګری، خیرالله راغی. ورته يې وویل: قُدرت الله! لکه چې ستړی شوی يې. راځه زه به درسره مرسته وکړم. دواړو غنم وار په وار ژرندې ته یووړل. قُدرت الله له خیرالله څخه مننه وکړه.



ف

ن



ف

ن

ف

ن

فیـ ـلان	فیلان	مـ ـنې	منې
شفـ ـتا لو	شفتالو	ژو بڼ	ژوبڼ

قُدرت الله او خیرالله

مرسته

لیکل

ژ

ـژ

ـژ

ځـ

ـځـ

ـځ

ډ

ـډ

ـډ

څـ

ـڅـ

ـڅ

۱-فضل کاکا د ماین ځای ـــــــــ کړ . (په ننبه، تیره)
۲- پام چې ور نژدې ـــــــــ، ماین دی . (راشه، نه شې)
۳- قُدرت الله غنم ـــــــــ ته وړل. (ژرندې، کتاب)
۴-قُدرت الله په لاره کې ـــــــــ شو . (ولوېد ، ستړی)

هوښیار بزګر

۱	ښـ	م	ډ	ر
۲	ق	ط	ت	ع
۳	س	ص	د	څ
۴	ذ	ژ	ز	ړ

۵	څ	ث	س	پ
٦	ک	ذ	ږ	ب
۷	ت	ف	ه	ن
۸	ع	ض	ن	ڼ

۱	۲	۳	٤	٥	٦
					
بوډۍ	ژرژر	قوم	څوکۍ	فال	ماڼۍ
ګېډۍ	ژبه	فِلم	څوک	کال	مڼه
ډوډۍ	ژوند	قِلم	څپلۍ	فیل	رڼا
ډاډ	ژرنده	چاقو	څانګه	فِلم	ناک

قُدرت الله او خیرالله

اِملا

ړ ق ف ن
تړ بق فص لن

تړ
بق
فص
لن



ح

فَـ ـتاح	فَتاح
اِصـ ـلاح	اِصلاح
نِـ ـکاح	نِکاح
جَـ ـراح	جَراح

حَوض

د جُمعې ورځ وه. ملیحه او فتاح ډېر خوشحاله وو. پلار یې ژمنه کړې وه چې مېلې ته به ځو. دوی یې مېلې ته بوتلل.

فتاح او ملیحې د کرېکِټ لوبه کوله. توپ یې په حَوض کې ولوېد. فتاح او ملیحه ورغلل چې توپ را واخلي. پلار یې ولیدل چې توپ اوبو ته لوېدلی دی.

توپ یې ورته را وایست. فَتاح او ملیحې ته یې وویل: بچیانو! حوض ته نژدې لوبې مه کوئ. خدای ﷻ مه کړه، په کې وبه لوېږئ.



حـ

ـحـ

ح

حَلال	حَـ ـلال
مليحه	مليـ ـحه
مِحراب	مِحـ ـراب
تسبيح	تسـ ـبيح

حوض

ملگرتيا او دوستي



ليکل

ذ

ذا کِر	ذاکِر
ذا کِ ـره	ذاکِره
ذکـ ـیه	ذکیه
ذَ ره بین	ذَره بین

مُهِم کاغَذونه

ذکیه وَړه ده. په لیک لوست نه پوهېږي. پرون له الماری څخه یو کاغذ رالوېدلی و. ذکیې کاغذ را واخیست. اور یې ورته واچاوه. مور یې ذاکِره په منډه ورغله. په کاغذ لګېدَلی اور یې مړ کړ. په دې وخت کې ذِکرالله له ښوونځي څخه راغی.

مور یې وویل: زویه! ته دا کاغذ وګوره چې د څه شي دی. ذِکرالله نیم سوی کاغذ وکوت. د دوی د کور د برېښنا بِل و. ذِکرالله مور ته وویل: دا خو د کار کاغذ دی. مُهِم کاغذونه باید په خوندي ځای کې وساتل شي.

ذ

ـذ



ـذ

ذکیه	ذ کـ ـیه
ذاکِر	ذا کِر
کاغذونه	کا غـ ـذو نه
کاغذ	کا غذ

مُهِم کاغَذونه

ملگرتیا او دوستي



لیکل

	حـ		ـحـ		ـح
	ذ		ـذ		ـذ

۱- ملیحه او فتاح ډېر ــــــ وو. (غوښتل، خوشحاله)

۲- فتاح او ملیحه ــــــ. (حوض، ورغلل)

۳- پرون له الماری یو کاغذ ــــــ و. (سپین، رالوېدلی)

۴- د دوی د کور د ــــــ بِل و. (برېښنا، الماری)

حوض

	ږ		ـږ		ـږ
	قـ		ـقـ		ق
	فـ		ـفـ	ظریف	ـف
	ڼـ		ـڼـ		ـڼ

هجا

ږیره	ږیـ ره	یعقوب	یعـ قوب
کبږدۍ	کبږ دۍ	ژوبڼ	ژو بڼ
قلم	قـ لم	ترافیک	تـ را فیک

مُهِم کاغَدونه

اِملا

ذ

بذ جذ عذ فذ هذ

بذ

جذ

عذ

فذ

هذ



ص

اِخـ ـلاص	اِخلاص
خَـ ـواص	خَواص
مَخـ ـصوص	مَخصوص
را خلاص	راخلاص

نظافت

صابرې صادِق ته وویل: وروره، ښوونځي ته د تګ وخت دی.
صادِق ورته وویل: لږ صبر وکړه. زه مې مخ او لاسونه مینځم.
صابرې وویل: ما هم مخ او لاسونه په صابون ومینځل. صابره
او صادِق ښوونځي ته ولاړل. ښوونکي شاګردان وکتل. د
ډېرو جامې صفا وې. نوکان يې لنډ وو. د سر وېښتان يې هم
صفا وو. ښوونکي ټولو ته آفرین ووایه.
صابرې او صادِق ته يې چکچکې وکړې.
ځکه چې هغوی خپل کتابونه هم پاک
ساتلي وو. ښوونکي وویل: له صفایې
سره د انسان زړه خوشحاله وي. ثواب
هم لري.

صـ

معصومه

ـصـ

مخلص

ص

صابره	صا بـ ـره
رُخصت	رُخـ ـصت
اِخلاص	اِخـ ـلاص
صابون	صا بون

نظافت

بې ځایه ویره

لیکل

ض

فَـ ـیاض	فَیاض
مـ ـرض	مرض
ر یاض	ریاض
عِـ ـوض	عِوض

بې پروايي

ضیا ، مُرتضی او فَیاض ملګري دي. هغوی یو ځای لوبې کوي.
ضیا غوښتل چې په سړو اوبو کې ولامبي.
فَیاض ورته وویل: وروره! منی دی،په سړو اوبو کې مه لامبه.
ناروغه به شې. ضیا د هغه خبره ونه منله. په سړو اوبو کې یې
ولمبل. ضیا سبا ته مریض شو.

مُرتضی او فَیاض، ضیا خو ورځې
ونه لید. پوښتنې ته یې ورغلل.
ضیا ورته وویل: بې پروايي مې
وکړه. ستاسو خبره مې ونه منله.
د حوض په سړو اوبو کې مې
ولمبل. مریض شوم. نور به داسې
بې پروايي نه کوم.

ضـ

ـضـ

ـض

ضرر	ضـ ـرر
فَیاض	فَـ ـیاض
ضیا	ضـ ـیا
مریض	مـ ـریض

بې پروايي

بې ځايه ويره

ليکل

صـ

ضـ



ـصـ

ـضـ

ـص

ـض

۱- صابره او صادِق ښوونځي ته ــــــــ . (ولاړل، کابل)

۲- د سر ــــــــ یې هم صفا وو. (نوکان، وېښتان)

۳- ضیا غوښتل چې په ــــ اوبو کې ولامبي. (سړو، مریض)

۴- ضیا د هغه خبره ــــــــ . (ونه منله، مریض)

نِظافت





فـ

ڼـ



حـ

ذ



ـفـ

ـڼـ

ـحـ

ـذ

ظریف

ـف

ـڼ



ـح



ـذ

هجا

فیلان	فیـ ـلان	رَنا	رَ نا
افغانستان	افـ غا نسـ ـتان	فتاح	فـ ـتاح
منې	مـ ـنې	ملیحه	مـ ـلیـ ـحه

بې پروايي

اِملا

ض

ضک ضل ضم ضن ضو

ضک

ضل

ضم

ضن

ضو

ط

اِحـ تـیاط	اِحتیاط
خـ یاط	خیاط
خـ طـاط	خطاط
اِر تِـ بـاط	اِرتِباط

خطاطي

طاهِرې د طیبې کتابچه ولیده. ویې ویل: طیبه جانې! دا کَلِمه شَریفه چا درته لیکلې ده؟ طیبې وویل: دا ما لیکلې ده. طاهِرې وویل: او هو! څومره ښکلی خط دې دی. سَمه خطاطه یې. طیبې وویل: مننه. زه هره ورځ د خط مَشق کوم. طاهِرې وویل: ارمان چې زما خط ستا د خط غوندې وای.

طیبه موسکۍ شوه. ویې ویل: دا خو آسانه خبره ده. ته هم مَشق کوه. زه به خطاطي در زده کړم. طاهرې مننه وکړه او خطاطي یې پیل کړه. څه موده وروسته یې خط ښایسته شو.

ط

ـطـ

ـط

طاهِره	طا هِـ ـره
خطاطي	خـ ـطا طي
خطاط	خـ ـطا ط
طيبه	ط ـيـ ـبه

خطاطي

دوستي

ليکل

ظ

مَحـ فوظ	مَحفوظ
لِـ حـاظ	لِحاظ
حِـ فاظ	حِفاظ
الـ فاظ	الفاظ

بيزوګی

ظاهِر او مَحفوظ ځنګله ته تللي وو. د بيزوګي چيغې يې واورېدې. د بيزوګي پښه د ونې په ښاخونو کې بنده وه. ظاهِر ونې ته وروخوت. ښاخونه يې سره بېل کړل. بيزوګی راکښته شو، مننه يې وکړه. مَحفوظ وويل: هله چې بيزوګي دې ځادر وتښتاوه! ظاهِر وويل: زما د نېکۍ لحاظ يې هم ونه کړ؟ وروسته بيزوګی له يوې غوټې سره بېرته راغی. ظاهِر وويل: دا خو زما ځادر دی. غوټه يې خلاصه کړه. ګوري چې غوزان او جلغوزي دي. مَحفوظ وويل: عجبه ده! بيزوګی هم پوهېږي چې د نېکۍ بدله نيکي ده.

ظ

ـظـ

ـظ

ظاهِر	ظا هِر
مَظلوم	مَظـ لوم
لِحاظ	لِـ حاظ
حَفیظ	حَـ فیظ

بیزوګی

دوستي

لیکل

ط

ظ

ط

ظ

ط

ظ

۱- طاهِرې د طیبې کتابچه ______ . (واورېده، ولیده)

۲- څه موده وروسته یې خط ______ شو. (ښایسته، خراب)

۳- د بیزوګۍ ______ یې واورېدې. (چیغې ، سترګې)

۴- بیزوګی ______ شو. (راکښته، وتښتاوه)

خَطاطي

	حـ		ـحـ		ح
	ذ		ـذ		ـذ
	صـ		ـصـ		ص
	ضـ		ـضـ		ض

هجا

حمیده	حـ میـ ده	کاغذ	کا غذ
خوشحال	خوش حال	رُخصت	رُخ صت
ذَره بین	ذَ ره بین	اِخلاص	اِخ لاص

بیزوگی

اِملا

ظ

ظب ظع ظق ظل ظم

ظب
ظع
ظق
ظل
ظم

ع

شُـ ـروع	شُروع
دِ فاع	دِفاع
اِخـ ـتِـ ـراع	اِختِراع
وِ داع	وِداع

مُطالعه

عابِده او عُمَر د عَبدالله اولادونه دي. دوی به له پلار څخه پوښتنې کولې. پلار يې عالِم سړی دی. د دوی پوښتنې به يې ځوابولې. عابِدې پلار ته وويل: تا دومره شيان له چا زده کړي دي؟ پلار يې وويل: دا مې له ملګرو زده کړي دي. عُمَر وويل:

ملګري دې څوک دي؟ پلار يې وويل: ملګري مې ډېر دي. دوی ډېر معلومات لري.

عابِدې وويل: نو موږ ته يې هم راوښيه. پلار يې په خندا وويل: زما ملګري کِتابونه دي. ډېر کتابونه مې مُطالعه کړي دي.

هر عِلم په کِتابونو کې وي.

	عـ
	ـعـ
	ع

عابِده	عا بِـ ـده
عالِم	عا لِم
تعلیم	تَعـ ـلیم
شمعَ	شـ ـمـعَ

مُطالعه

د جومات ادبونه

ليکل



ې

گا زَ رې	گازَرې
شيـ ـدې	شيدې
تر وې	تروې
مو رې	مورې

مېوې

زموږ هېواد مُعتَدِله هوا لري. خاوره يې د مېوو او غَلو دانو کولو ته جوړه ده. ډَول ډَول مېوې په کې کېږي. مېوې په دوه ډوله دي. تازه مېوې او وچې مېوې. مَڼې، آلوچې، اَنګور، هِندوانې، خَټکي، اَنار، مالتې تازه مېوې دي. بادام، پسته، غوزان، جَلغوزي، مُمپلي او نخود وچې مېوې بلل کېږي.



ځينې مېوې هم تازه وي، هم وچېږي. لکه توت، اَنګور او خَټکي. مېوې بدن ته ګټه لري. تازه مېوې بايد پاکې ومينځل شي. د ناپاکو مېوو خوړل اِنسان مريضوي. د هېواد ځينې مېوې نورو هېوادونو ته لېږل کېږي.

	ې
	ـېـ
	ـې

مېوې	مـېـ ـوې
هېواد	هـېـ ـواد
مېنه	مـېـ ـنه
شیدې	شیـ ـدې

مېوې

د جومات ادبونه



لیکل

عـ

ي

ـعـ

ـبـ

ـع

ـي

١- دوی به له پلار څخه ____ کولي. (کتابونه، پوښتني)

٢-دوی د پر معلومات ____. (لري، عِلم)

٣-دَول دَول ____ په کې کېږي. (مېوې ، وچې)

٤-مېوې بدن ته ____ لري. (مریضوي، گټه)

مُطالعه

صـ	
ضـ	
طـ	
ظـ	ظریف

ـصـ	معصومه
ـضـ	فضيله
ـطـ	
ـظـ	حفيظه

ـص	مخلص
ـض	فايض
ـط	
ـظ	حفيظ

هجا

صابِره	صا بِـ ره	طیب	طـ یب
رُخصت	رُخـ صت	طاهِره	طا هِـ ره
ضَرَر	ضَـ رَر	حَفيظ	حَـ فيظ

ميوې



اِمـلا

ي

بي چي سي صي طي

بي

چي

سي

صي

طي

حـ	
ذ	

ـحـ	
ـذ	

ح	
ذ	

حا جي	حاجي
تَسـ ـبيح	تَسبيح

ذَ كي	ذَكي
كا غذ	كاغذ

رُخصَتي

ذاکِر په حَمید پسې کور ته وَرغی. حَمید راووت. کاغذ او قلم يې په لاس کې وو. ذاکِر وويل: راځه چې لوبې وکړو. بیا به په حَوض کې ولامبو. حَمید وويل: زه خو اوس درس وایم. مازدیګر به لوبې وکړو. ذاکِر وويل: نن خو رُخصَتي ده. په رُخصَتۍ کې نو چا درس ويلی؟ په دې وخت کې د حَمید مور راووتله.

ويې ويل: په رُخصَتيو کې هم لوبې وکړئ، هم درسونه ووايئ. بیا به د مکتب درسونه درته آسانه شي.

ذاکر وويل: سمه ده ترورې!

ص

ض

ـصـ

ـضـ

ـص

ـض

صابون	صا بون	ضابِط	ضا بِط
تَصویر	تَصـ ـویر	مریض	مـ ـریض

رُخصَتي

ناروغي

لیکل

	ط		ط		ط
ظریف	ظ	حفیظه	ظ	حفیظ	ظ

طا هِـ ره	طاهِره	ظا هِر	ظاهِر
خَـ طاط	خَطاط	مَحـ فوظ	مَحفوظ

د خَطاطۍ قَلمونه

ظَریف د ظاهِر او طاهِرې پلار دی. یوه ورځ طاهِرې وویل: پلاره! زما د خَط کتابچه ډکه شوې ده. ظاهِر وویل: زما هم د خَطاطۍ قلمونه په کار دي. پلار یې وویل: نو راځئ چې بازار ته پسې ولاړ شو. بازار ته ورسېدل. ظاهِر وویل: هاغه دی، نَظَر مُحَمَّد ماما مې وګورئ. نَظَرمُحَمَّد ډېر ښه خطاط دی. هغه د خَطاطۍ قَلَمونه ښه پېژني. ظاهِر ته یې د خَطاطۍ قَلَمونه واخیستل. طاهِرې وویل: ماما! زما کتابچه دې هېره شوه؟ نَظَر مُحَمَّد وویل: نه، نه. د خَط ښکلې کتابچه به درته واخلم.

	عـ		ـعـ		ع
	ي		ـبـ		ـي

عَینَکي	عَیـ نَـ کي	مېوي	مېـ وي
مُطالعه	مُـ طا لـ عه	آلوچي	آ لو چي

د خَطاطۍ قَلمونه

ناروغي

لیکل

	حـ		ـحـ		ـح
	ذ		ـذ		ـذ
	صـ	معصومه	ـصـ	مخلص	ـص
	ضـ	فضیله	ـضـ	فایض	ـض

١- بیا به په ــــــ کې ولامبو. (حَوض، میدان)

٢- زه خو اوس درس ــــــ. (قلم، وایم)

٣- ظریف د ظاهِر او طاهِرې پلار ــــــ. (دی، شته)

٤- زما د خط کتابچه ــــــ شوې ده. (بازار، ډکه)

رُخصَتي

۱	ط	ت	پ	ف
۲	ث	ټ	ص	عـ
۳	جـ	ـګ	چـ	ـظ
۴	ښـ	حـ	خـ	چ

۵	د	ـضـ	ر	ـنـ
٦	ـذ	ـثـ	عـ	ص
۷	ـهـ	ـقـ	عـ	ـژ
۸	ـګ	ـل	ـمـ	ې

۱	۲	۳	٤	۵	٦
زره	توت	خط	صابر	عَینَکي	خولۍ
ذره بین	تور	سطل	صبر	اییک	مرۍ
زړه	طوطي	خطاطي	صابون	چوغکي	څپلۍ
ذاکِر	موچي	خطر	صابره	الوتکي	هیلۍ

د خَطاطۍ قَلمونه

اِملا

ط ظ ع ي
طس ظع عف حي

طس
ظع
عف
حي

ی

او ږ ی	اوږی
بې ړ ی	بېړی
ش ړ ی	شړی
پې ړ ی	پېړی

څپلی

هیلی او هوسی سره ملګرې دي. د دوی کورنی خوشحاله ژوند لري. تېره اونی هیلی او هوسی بازار ته ولاړې. هوسی ورور ته کورتی او خولی واخیستې. هیلی هم خپلې خور سپوږمی ته څپلی واخیستې. څپلی د سپوږمی په پښو کې جوړې نه وې. سپوږمی خپه شوه. هیلی ورته وویل: خورې! مه خپه کېږه. څپلی به بېرته درته بدلې کړم. بله ورځ هیلی او سپوږمی بازار ته ولاړې.

دوکاندار څپلی وربدلې کړې.
سپوږمی له دوکاندار څخه مننه وکړه.

ۍ	ـۍ
ـۍ	

هیلۍ	هیـ لۍ
هوسۍ	هو سۍ
کورنۍ	کو ر نۍ
سپوږمۍ	سپوږ مۍ

څپلۍ

بخښنه

لیکل

ي

سـ ـړي	سړي
دوسـ ـتي	دوستي
تیکـ ـري	تیکري
گـ ـړي	گړي

د مرغۍ بَچي

وَلي او سَخي سره ملگري دي. وَلي سپینه پیشولري. پیشو په باغ کې گرځي او میَو میَو کوي. یوه ورځ وَلي او سَخي په باغ کې لوبې کولې. د مرغۍ بچي یې ولیدل چې له ځالې رالوېدلی وو. پیشو غوښتل چې ویې خوري. د وَلي او سَخي ورته پام شو. دواړو د مرغۍ بَچي را واخیستل. په ځاله کې یې کېښودل. مرغۍ په مَنبوکه خپل بَچي ونازول. وَلي وویل: وگوره! مرغۍ خوشحالي کوي. په چوڼ چوڼ له موږ څخه مننه کوي.



ي

ـیـ

ـي

بَچي	بَ ـچي
سپینه	سپیـ ـنه
لیدل	لیـ ـدل
پیشو	پیـ ـشو

د مرغۍ بَچي

بخښنه

لیکل

	ى		ـى		ـى
	ي		ـيـ		ـي

۱- تېره اونۍ هیلۍ او هوسۍ بازار ته ـــــ . (واخیستې، ولاړې)

۲- ښپلۍ د سپوږمۍ په پښو کې ـــــ نه وې. (جوړې، هیلۍ)

۳- د وَلي او سَخي ـــــ پام شو. (باغ، ورته)

۴- وګوره! مرغۍ ـــــ کوي. (خوشحالي، میَو میَو)

ښپلۍ

	ط		ـط		ـطـ
ظریف	ظـ	حفیظه	ـظـ	حفیظ	ـظ
	عـ		ـعـ		ع
	ي		ـيـ		ـي

هجا

طاهِره	طا هِـ ره	تعلیم	تعـ لیم
ظریف	ظ ـریف	عالِم	عا لِم
حَفیظه	حَـ فیـ ظه	میوي	میـ وي

د مرغۍ بَچي

اِملا

ي
بي سي صي طي مي
بي
سي
صي
طي
مي



ث

غِـ ـیاث	غِیاث
وا رِث	وارِث
میـ ـراث	میراث
اِ ناث	اِناث

ماین

ثُرَیا او غیاث پر لاره روان وو. ثُرَیا وویل: هغه څه شی دی؟ ثُرَیا ور روانه شوه. غیاث ژر له لاسه راونیوه. ویې ویل: پام! پام! ثُرَیا ځای په ځای ودرېده. ویې ویل: غِیاث لالا څه خَبَره ده؟ غیاث وویل: هغه سرې نښې نه وینې؟ ثُرَیا وویل: هغه تیږې چې په سره رنګ په نښه شوې دي؟ غیاث وویل: هو! دا د خَطر نښې دي. چېرته چې ماینونه وي، په همدې نښو نښودل کېږي. هغه د پَتَنګ په شان شی وینې؟ هغه ماین دی، ماین. ثُرَیا وویل: وی، ښه شوه چې پوهه دې کړم.

ثـ

ـثـ



ـث

ثُرَیا	ثُـ ـرَ یا
عُثمان	عُثـ ـمان
کوثر	کو ثر
مُثَلَث	مُـ ـثَـ ـلَث

ماین

د ماین خَطر

لیکل

ئ

گو ړئ	گوړئ
را وړئ	راوړئ
و کړئ	وکړئ
و لـ ـړئ	ولړئ

اِتِفاق

یوه سپین ږیري غوښتل خپل زامن له بې اِتِفاقۍ څخه وباسي.

یوه ورځ یې زامنو ته وویل:

ورشئ، ما ته د لښتو یوه ګېډۍ راوړئ. هغوی ورته ګېډۍ راوړه. بیا یې ګېډۍ هر زوی ته د ماتولو لپاره ورکړه. هغوی ګېډۍ ماته نه شوی کړای. سپین ږیري په خپله ګېډۍ خلاصه کړه. یوه یوه لښته یې ماته کړه. خپلو زامنو ته یې وویل:

ګورئ! تاسو د ګېډۍ په څېر یو ځای اوسئ، اِتِفاق ولرئ. په دې کې به تل ګټه وکړئ. که بې اِتِفاقه شوئ، تل به تاوان وکړئ.

ئ

ـئ

ـئ

وکړئ	و کړئ
مه نیسئ	مه نیـ ـسئ
نیسئ	نیـ ـسئ
اَخلئ	اَخ ـلئ

اِتفاق

د ماین خَطر



لیکل

ثریا	ثـ	عثمان	ـثـ		ـث
	ئ		ـئ		ـئ

۱- دا د خَطر ______ دي. (کتابچه، نښې)

۲- غِیاث لالا څه خبره ______؟ (ده، لاره)

۳- ما ته د لښتو یوه ______ راوړئ. (ماتېږئ، ګېډۍ)

۴- تاسو د ګېډۍ په څېر ______ اوسئ. (لښته، یوځای)

ماین

	ی		ـی		ـی
	يـ		ـيـ		ـي
	عـ		ـعـ		ع
	ي		ـيـ		ـي

هجا

مېوې	مېـ ـوې	کورنۍ	کو ر نۍ
عَينَکي	عَيـ ـنَـ ـکي	سپوږمۍ	سپوږ مۍ
عالِم	عا لِم	مستي	مسـ ـتي

اِتفاق

اِملا

ۍ
طۍ عۍ فۍ کۍ لۍ

طۍ
عۍ
فۍ
کۍ
لۍ



ح

اِصـ ـلاح	اِصلاح
فَـ ـلاح	فَلاح
نِـ ـکاح	نِکاح
فَـ ـتاح	فَتاح

د هیلۍ بچی او چرګوړی

نَری باران ورېده. چرګوړی د حَوض پر غاړه پاتې و. ژړل يې. د هیلۍ بَچی ورغی. ورته ويې ويل: ولې ژاړې؟ چرګوړي وويل: زموږ کور د حَوض پورې غاړه دی. په حَوض نه شم ور ګډېدای. د هیلۍ بچي يې اوښکې پاکې کړې. ورته ويې ويل: اَوَل وخانده، بیا دې له حَوض څخه پورې باسم. چرګوړي وخندل. د هیلۍ بَچي ورته وويل: اوس نو زما پر شا کېنه. چرګوړي شا ته ور ټوپ کړ. د هیلۍ بَچي په حوض کې لامبو ووهله. چرګوړی يې له حَوض څخه پورې ایست. چرګوړی خوشحاله شو او مننه يې ترې وکړه.




حـ

ـحـ

ح

حامِد	حا مِد
مِحراب	مِحـ ـراب
تَسبیح	تَسـ ـبیح
فَتاح	فَـ ـتاح

د هیلۍ بچی او چرګوړی

نیکي

لیکل



هـ

هېـ ـواد	هېواد
هِنـ ـدوا نۍ	هِندوانۍ
هَـ ـوا	هَوا
سَـ ـهار	سَهار

هیله او اُمید

د خَیبرَ له ژونده زړه تور و. یوه شپه یې په ژړا وویل: پښه مې ماین وَهَلې ده. نه مې ځان ته خَیر رسېږي او نه نورو ته. پلار یې دوې شَمعې راوړې. یوه جوړه وه، بله ماته. دواړه یې ولګولې.

دواړو یو ډول رَڼا کوله. پلار یې وویل: وګوره! ماته شَمعَ هم پوره رَڼا کولَی شي. ناهیلَی کېږه مه. که ته تعلیم وکړې، ځان او خلکو ته به دې خیر ورسېږي. خَیبَر د پلار لاسونه ښکل کړل. ویې ویل: ډېره مَننه. د ژوند روښانه لاره دې راوښوده.

هـ

ـهـ

ـه

هغوی	هـ غوی
مَهارت	مَـ هـا رت
کوټه	کو ټه
پورته	پور ته

هیله او اُمید

نیکي

لیکل

	حـ		ـحـ		ـح
	هـ		ـهـ		ـه

۱ د هیلۍ بَچې ــــــــ. (ورغۍ، باران)

۲-زمونږ کور د ــــــ پورې غاړه دی. (اوښکې، حوض)

۳-یوه ــــــــ وه، بله ماته. (جوړه، تعلیم)

۴-دواړو یو ډول ــــــــ کوله. (ځان، رَنها)

د هیلۍ بچې او چرګوړی



	ی		ـی		ـی
	ي		ـيـ		ـي
 ثریا	ثـ	 عثمان	ـثـ		ـث
	ئ		ـئ		ـئ

هجا

کورتۍ	کور تۍ	ثُرَیا	ثُ رَ یا
هیلۍ	هیـ لۍ	ساتئ	سا تئ
لرګي	لر ګي	اَخلئ	اَخـ لئ

هیله او اُمید

اِملا

هـ
هج هد هر هن هی
هج
هد
هر
هن
هی